PN-ACN-354

ISN 40838
P958

نري رنځ څنګه خپريږي

HOW TB SPREADS

په نري رنځ اخته يو سړی چې
توخـــيږي .

په نري رنځ اخته يو ماشوم

د د ماغ د پوښ نري رنځ



تهيه کوونکی :

دوکتور سيد امين « فاطمی »

by

Dr. S. M. Amin Fatimie

M.D.

د افغانستان قهرمانو مجاهدینو

او ټول مسلمان ملت ته،

چې د کمونېزم او روسي سره استعمار

په مقابل کښې جهاد کوي اهداء کېږي .

بسمه تعالی

اَلْعِلْمُ عِلْمَانِ عِلْمُ الْاَبْدَانِ وَعِلْمُ الْاَدْيَانِ

علم پر دوه ډوله دی ، اول د بدن پوري مربوط علم او دوهم د دين علم
(د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له لارښوونو څخه)

قَالَ النَّبِيُّ تَدَاوَوْا فَمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ دَاءً اِلَّا اَنْزَلَ مَعَهُ الدَّوَاءَ اِلَّا السَّامَ فَاِنَّهُ لَا دَوَاءَ لَهُ

حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وآله وسلم فرمايلي: د ناروغيو علاج وکړئ ځکه چې خدای ج، داسې ناروغي نده پيدا کړې چې دواء يې ورته نه وي رالېږلې ، مګر مرګ چې علاج نه لري .

بسمه تعالیٰ

سریزه

قرآن کریم او زموږ ستر پیغمبر حضرت سرور کائنات (صلی الله علیه وسلم) څوارلس سوه کاله د مخه د ځانګړې او ټولنیزې روغتیا په هکله د داسې دستورونو ارشاد فرمایلی دی چې د هغو علمي او فلسفي ارزښت د اوسنۍ نړۍ سائنس پوهان دے ته اړکړیدي چې د اسلام د مقدس دین او زموږ د پیشوا (ص) په وړاندې د تعظیم او تکریم سرټیټ کړي.

هغه ستر عامل چې جسمي سلامتیا او روغتیا د خطر سره مخامخ کوي، د مکروب موجودیت دی. مکروبونه د ډېرو ناروغیو د پیدا کېدو او خپرېدو سبب کرځي. لدې کبله د مکروب پېژندنه او د هغه له منځه وړل د جسمي

روغتیا د تأمین د پاره ستره وسیله ده .

مخکښې له دے چې دغه ډېر کوچني (ذرّه بیني) موجودات د پاستور په واسطه کشف شي د علم نړۍ د هغوئ د شتوالي څخه خبرنه وه .

یو مسیحي ستر طبیب ، ډاکټر تومانیانس داسې وایي :

«څه شی چې ما استنباط کړی او کولای شم هغه ثابت کړم دا دی چې د اسلامي دیانت مؤسس د مکروب د موجودیت څخه پوره خبرؤ ، او دغه خطرناک موجودیې د ناروغیو د عامل په توګه پېژنده او مهمه داده چې بدن ته د هغو د نتوتلو او همدا رنګه بدن ته د هغو د داخلېدو د مخنیوي په لارو چارو پوره پوهېده . دغه موضوع د هغو روغتیایي دستورونو څخه بنه روښانه کېږي کوم چې د هغه ستر پیغمبر او عالیمقام پوه (ص) څخه په ځای پاتې دي . د دغې دستورونو د افادې طرز د هغه وخت د خلکو د فکري ظرفیت سره برابر دی .

پیامبر (ص) فرمایي : (قصّوا الاظفار لأنها مقیل الشیطٰن)

« نوکان لنډ کړئ ځکه چې د شیطانانو او مردارو یو خوب ځای دی »

پرته له دے نه کوم واضح او رسا بیان کولی شي د جاهلیت په زمانه کښې داسې عالي او اوچت حقیقت افاده کړي ، تر څو د هغو بدوی عربو د پوهې او فهم سره برابر

وي .

هغه لوړ شخصيت، مکروب د شيطان سره چې د هغې زمانې د خلکو په نظر کښې يو ژوندی خطرناک موجودؤ تشبيه کړيدی » .

داؤد ډاکتر تومانيانس نظر زموږ د سترلارښود حضرت محمّد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مبارك ارشاد په هکله . هيله لرم چې درانه لوستونکي د ټولو هغو مبارکو احاديثو د لوستلو او په عملي توګه د کټې اخيستلو په هڅه کښې شي کوم چې د عامې روغتيا د تأمين په لاره کښې ارشادی کرښې کښل کيږي .

دا رساله چې د درنو لوستونکو حضورته وړاندې کيږي د يوې وژونکې مکروبي ناروغۍ (نري رنځ) په هکله ده . د نري رنځ ناروغي د علاج وړ ده، او که په ډېر هکله روغتيايي تعليماتو ته پاملرنه وشي د هغه نه مخنيوی کېدای شي.

لنډه دا چې که زموږ مسلمان هيوادوال اسلامي تعليماتو او د خپل ستر پيغمبر حضرت سرور کائنات (ص) ارشاداتو او روغتيايي تعليماتو ته په بشپړه توګه عملي بڼه ورکړي ، د نري رنځ او نورو ډېرو مکروبي ناروغيو د پيدا کېدو او خپرېدو لمن به ټوله شي او په نتيجه کښې به د عامې روغتيا د باارزښته

هدف د تأمین په برخه کښې پوره پرمختګ وشي .

- وَمِنَ اللّٰهِ التَّوْفِيقُ -

د وکتور « فاطمي »

د ۱۴۰۸ هـ ق کال د ربیع الاول د میاشتې ۳ مه نېټه

د ۱۹۸۷ م کال د اکتوبر د میاشتې ۲۵ مه نېټه

د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد د صحي کمیټي
د تعلیمي مرکز د کارکوونکو ،
« محترم استاذ ډاکتر « افضلی » صاحب ، محترم
عبدالبصیر « بلال » محترم ذکرالله « مجددی » محترم
حشمت الله « پوپل » ، محترم حیات الله « پوپل »
محترم عبدالحلیم « صافی » او محترم اختر محمد
زاهد » څخه چې د دې رسالې په تهیه
او نشرولو کښې ما سره مرسته
کړیده ، شکریه کوم .
لوی خدای (ج) دې دوی ښکمرغه
او بریالي لري .



سل (توبرکلوز)

Tuberculosis

بسم الله الرحمن الرحيم

نری رنځ (سل) :

نری رنځ (سل) یوه دوامداره مکروبی ناروغی ده چی په آسانی سره سرایت کوی (خپریږی) ۰ کله هم په نری رنځ داخته غـــوا شودی چی ایشول شوی نه وی ماشومانو او لوبانو ته د ناروغی د خپریدو سبب گرځی ۰

نری رنځ د بدن په هره برخه کی ناروغی پیدا کولای شی ۰ خو اکثراً سږی په ناروغی اخته کوی ۰

نری رنځ هر څوک په ناروغی اخته کولای شی خو معمولاً هغه کسان چی د (15 نه تر 35) کلو عمر لری او یا ضعیف وی او ښه صحی او کافی اندازه خواړه ورته نه رسیږی او یا هغه کسان چی د ناروغ سره یو ځای اوسیږی په دی ناروغی زیات اخته کیږی ۰

په ډیرو ښارونو کی مخکی له دی چی ماشومان ښوونځی ته لاړ شي، په نری رنځ اخته وی خو په کلو او باندو کی وروسته له دی عمر څخه په نری رنځ اخته کیږی ۰

نری رنځ د علاج وړ یوه ناروغی ده۰ خو تر اوسه هر کال په زرګونو تنه د دی ناروغی له کبله مری ۰ هغه څه چی د ناروغی د مخنیوی او معالجی د پاره ډیر ارزښت لری د علاج ژر پیل کول دی ۰ لدی کبله هر څوک باید د دی ناروغی نښی نښانی و پیژنی او ناروغو کسانو د پیدا کولو د پاره هڅه وکړی ۰

د نری رنځ معمولی نښی :

1 ـ دوامداره توخی خصوصاً وروسته د ویښیدو څخه ۰

2 ـ خفیفه مازیګرنی تبه او شپینی خوله ۰

3 ـ په تترکی یا د شا په پورتنی برخه کی د خوږ شتوالی ۰

4 ـ په دوامداره توګه د بدن د وزن کښت او د ضعف زیاتیدل ۰

په شدیدو او پر مخ تللو حالاتو کی اکثراً لږ څه وینه د توخی سره

را بهر کیږی خو په ځینو پېښو کی وینه زیاته وی ۰

نری رنځ څنګه د ناروغ څخه

روغوکسانو ته خپریږي :

کله چی په نری رنځ اخته ناروغ تو خیږی د بلغمو څاڅکی په هوا

کی خپریږی ۰ دغه څاڅکی د نری رنځ ویندی مکروبونه په ځان کی

لری ۰ که څوک دغه د مکروبو څخه ډکه هوا تنفس کړی ، مکروبونه

سږو ته داخل او هلته ورو ورو وده کوی او زیاتیږی او په ناروغی

باندی د سږو د اخته کیدو سبب ګرځی ۰ همدا رنګه که ناروغ

خپل بلغم په ځمکه توکړی وروسته له وچیدو د هغی مکروبونه د

باد او هوا په واسطه خپریږی او روغو کسانو کی د ناروغی د

پېښیدو خطر را مینځ ته کوی ۰

که څوک د هغی غوا شودی چی په نری رنځ اخته ده وشکی د

کولمو نری رنځ مینځ ته را وری ۰

نری رنځ څنګه خپریږي ؟



HOW T.B SPREADS

لویان څنګه ماشومان په ناروغی اخته کوي؟

ډیر لږ پیښیږی چی په نری رنځ اخته ماشوم بل روغ ماشوم په ناروغی اخته کړی ځکه په ماشومانو کی د نری رنځ مکروبونه ډیر لږ کولای شی د هغوی د میدن څخه بهر ته ووځی په دی هکله د ناروغو لویانو او ماشومانو تر مینځ توپیر موجود دی ۰ په نری رنځ اخته لویان په ډیره اسانی سره ماشومانو ته د نری رنځ مکروبونه خپرولی شی ۰

ځکه په لویانو کی د ټوخیدو په وخت د هغه زخم څخه چی د نری رنځ مکروبو مینځ ته راوړی یو سوری جوړیږی د نری رنځ مکروبونه د دغی سوری په دیوالونو کی وده او زیږنده کوی او د ټوخی په وخت کی مکروبونه د بلغمو سره یو ځای بهر ته را وځی دغه سوری کله وینه ور کوی ۰ نو د وینی شتوالی د لویانو په بلغم

کی د نری رنځ مهمه علامه ده. په نری رنځ اخته لویان اکثراً

تر هغه چی مری لږ څه ناروغ ښکاری.

که تاسو په نری رنځ اخته یو غټ سړی و گوری د هغو ماشومانو په

لټه کی شی چی امکان لری په ناروغی اخته شوی وی. دا هغه -

ماشومان دی چی نوموړی ناروغ سره په تماس کی دی. که تاسو یو

ماشوم وگوری چی په نری رنځ اخته دی نو د هغی عمر والا سړی —

(کاهل) په لټه کی شی چی دوامداره ټوخی لری او احتمالاً

هغه بهماشوم ته د ناروغی د خپریدو سبب گرځیدلی وی. همدارنگه

هغه نور ماشومان چی امکان لری د دغی سړی نه ورته ناروغی —

خپره شوی وی و لټوی.

په نری رنځ اخته لویانو په بلغمو کی چی د ټوخی په واسطه بهر

ته وځی د نری رنځ په میلیونو مکروبونه شته. مونږ کولای شو

دغه مکروبونه د ذره بین (مکروسکوب) په واسطه وگورو.

ډیر ماشومان د قوی معافیت خاوندان وی ۰ کله چی د نری رنځ

مکروبونه د ډغوی بدن ته ننوځی دغه مکروبونه ژر وژل کیږی کوم

لومړنی فعالیت چی د دغی مکروبو لخوا په بدن کی شروع کیږی

هیڅ ډول نښی نښانی نښئی او ډیر ژر د منځه ځی ۰ په ډغو

ماشومانو کی چی مقاومت او معافیت ئی ضعیف دی؟

د نری رنځ مکروبونه په بدن کی خپریږی او کوم آفت چی په سږو

کی د مکروبو د ودی او زیاتیدو له کبله پیدا کیږی پر مختګ

کوی او ماشوم ناروغه کوی ۰ د ډیرو ماشومانو بدن ته د نری رنځ

مکروبونه ننوځی خو د ډغوی څو تنه ناروغه کیږی ۰

یو لړ پوښتنی په دی هکله پیدا کیږی ؟

د ولی د یو شمیر ماشومانو بدن د نری رنځ د مکروبونو په مقابل

کی داسی ښه جګړه کوی چی هیڅکله نه ناروغ کیږی ؟

د ولی یو شمیر نور ماشومان په شدید نری رنځ اخته کیږی ؟

ونز تل نه پوهیږو ۰ یو دلیل عمر دی ۰ واړه ماشومان نسبتاً لویو ماشومانو ته لږ مطافیت لری ۰ بل دلیل سوئ تغذی (نامناسب او ناکافی خوراک) دی نری رنځ په هغه ماشومانوکی چی ښه صحی کافی او مناسب خواړه ورته نه رسیږی ډیر پیښیږی ۰



دا ماشوم چاغ نه دی بلکه د نیمګړی تغذیی له امله د بدن په پړسوب اخته شوی دی ۰

دی ماشوم ته کافی اندازه طاقت ورکونکی خواړه نه دی رسیدلی ۰

دغه دواړه ماشومان په نری رنځ باندی د اخته کیدو د خطر سره مخامخ دی ۰

کله چې په خرابې تغذې اخته ماشوم وګورو باید د ځانه دا

پوښتنه وکړو چې ایا دغه ماشوم په نرۍ رنځ هم اخته شوی دی؟

نرۍ رنځ د ماشوم د تغذې حالت خرابوی ۰

نرۍ رنځ په هغو ماشومانو کې چې د هغوی بدن د توری توخلی

او شری په واسطه ضعیف شوی وی په اسانی سره خپریږی ۰

همدارنګه ملاریا او دوامداره نس ناستی د ناروغی د خپریدو

د پاره شرایط برابروی ۰ که ماشوم د هرې پورتنیو ناروغیو څخه

جوړ نشی امکان لری چې په نرۍ رنځ اخته وی ۰

د نرۍ رنځ مخنیوی :

په ماشومانو کې د نرۍ رنځ مخنیوی په دغه دوه لارو کولای شو :

1 - په لویانو کې باید نرۍ رنځ تشخیص او درمل شی ۰ د

ټولو هغه عمر والا (کاهل) کسانو بلغم باید معاینه شی کوم چې

د یوی میاشتی راهیسی توخیږی ۰



باید د ټولو هغه کسانو د رمل پیل شی کوم چی تشخیص شوی

دی او نورو ته د ناروغی د [illegible]پریدو سبب گرځی د د رمل

په پیل سره د نری رنځ [illegible] مکروبونه نور نشی کولا ی د

څه باید وکړی :

خراشکی (بلغم) په

یوه سرپوښ دار لوښی

کی ټول کړی ۰

او بیائی :

وسوزوی !

او یائی

ښخ کړی !



ناروغ کس نه بیرون ته و وځی ۰ او د روغو کسانو د ناروغی سبب

شی۰ خو مهمه خبره داده چی ناروغان باید خپل علاج بشپړ کړی

او دوا په منظمه توگه واخلی ۰ که دوا قطع شی علاج نیمگړی ـــ

کیږی ۰ پدی توگه چی د نری رنځ مکروبونه بیا په ودی او زیاتیدو

پیل کوی او د نورو کسانو ته د خپریدو توان پیدا کوی ۰

لویان کله چی ټوخیږی باید خپله خوله په یوه دستمال وپوښی

دوی خپل بلغم باید تیر کړی او په ځمکه ئی تو نکړی ۰

او یا بلغم په یوه سرپوښدار لوښی کی ټول کړی او بیائی وسوزوی

او یا ئی د خاورو لاندی ښخ کړی ۰ که داسی و نکړی مکروبونه ـ

هوا ته داخلیږی او دهوا د لاری روغ کسان په ناروغی اخته

کـــــــــوی ۰



د دوا خوړلو ته باید تر
هغه پوری ادامه ورکړی
شی چی داکتر ناروغ ته
ډاډ ورکړی چی په بشپړ
توګه ښه شویدی ۰
هغه ناروغ چی احساس
کوی ښه شویدی په خپل
سر باید د رمل قطع نکړی.
د نری رنځ بشپړ او کامل
علاج (یو کال نه تر دوه کالو)
وخت غواړی ۰



د ناروغ د پاره استراحت ډیر
ارزښت لری ۰ هغه باید د کار کولو څخه تر هغه پوری ډډه وکړی
چی مخ په ښه کیدو کیږی ۰

که د کورنی دغړو څخه څوک په نری رنځ اخته وی باید دغو

ټکو ته په کلکه پاملره وشی؛

- که ممکنه وی د کورنی ټول غړی د نری رنځ د پاره تر طبی

کتنی لاندی ونیول شی ۱۰

- ماشومان د نری رنځ پر ضد واکسین شی۰

- هر ناروغ مخصوصاً

ماشومان باید کافی

اندازه سپه او با

ارزښته خواړه وخوری۰

- په نری رنځ اخته کسان باید د روغو کسانو څخه جلا

ډوډۍ وخوری او جلا ویده شی ۰



په نری رنځ اخته ناروغ

د توخی په وخت کی

باید خپله خوله پټه

ونیسی او پر ځمکه

باندی د لاړو او

خراشکی (بلغم)

توکولو څخه

ډډه وکړی ۰

ـ که د یو ماشوم توخی د دوه اونیو څخه زیات دوام وکړی

او یا د نری رنځ اشتباه پری وشی باید صحی مرکز ته یوړل شی ۰

ـ نری رنځ فوراً باید تداوی شی ۰ که یو څوک نور نری رنځ ونلری

نو روغو کسانو ته ناروغی نشی خپرولی ۰

دعلاج ژرپیل کول او بشپړ درمل د نري رنځ د مخنیوي اساسي چاره ده .

په یاد ولرئ چې :

- سل (نری رنځ) یوه وژونکې ناروغي ده ، خود علاج وړده .
- د علاج ژرپیل کول او بشپړ درمل د نري رنځ د مخنیوي اساسي چاره ده .
- د نري رنځ ناروغ باید د دوا خوړلو ته تر هغه وخته پورې دوام وکړي چې ډاکټر هغه ته ډاډ ورکړي چې په بشپړه توګه ښه شوی دی .
- بشپړ او کامل علاج یونه تر دوه کلو وخت غواړي .

د مجاهدینو د اسلامي اتحاد د صحي کمېټې د تعلیمي مرکز له خپرونو څخه

د ۱٤۰۸ هـ . ق کال د ربیع الاول د میاشتې ۳ مه نېټه
د ۱۹۸۷ م کال د اکتوبر د میاشتې ۲۵ مه نېټه .